مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالهادي هادي

۲۰۲۲/۱۱/۰۳

بې تا

ذرې، ذرې ، خاورې ایرې، مات او تنها یمه اوس
ګرانې راوګوره ! چې څنګه یم ؟ بې تا یمه اوس

لکه د پیټې په شان، خپل ځان ته په شا یمه اوس
وړ به دې نه یم، خو همدغسې رښتیا یمه اوس

ساه مې له هرې ساه نه ووځي، رانه لار بیلوي
زخمي زخمي یمه، پرهر یمه ، ژړا یمه اوس

ستا له ښاري او مکتبي فکره قربان جانانه!
زه مو د ښار له شوره وتی د صحرا یمه اوس

تا نو د چا د مات غرور زخمونه څه لیدلي؟
زه د دنیا د نهیلیو انتها یمه اوس

خلک لګیا دي پخوانی هادي په ما کې ګوري
خو زه له ښې ، بدې وتلی د دنیا یمه اوس

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ